**د افغانستان اسلامي جمهوري دولت**
**د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ وزارت**
**د عامه اړیکو او رسنیو ریاست**

## مطبوعاتي اعلامیه

نېټه: د ۲۰۱۸ م کال د مې ۲۰مه

د افغانستان د مخابراتو او معلو ماتي ټکنالوجۍ وزیر محترم شهزاد اریوبي د امریکا متحده ایالاتونو ته په خپل کاري سفر کې د افغانستان د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ په برخه کې د اړوندو مهمو نړیوالو شرکتونو او چارواکو سره لیدنې وکړې.

د امریکا د متحده ایالاتو د سوداګرۍ وزارت ستر سلاکار ښاغلي ستیفن دی ګاردنر او ټیم سره په لېدنه کې چې په امریکا کې د افغانستان سفیر محترم ډاکټر حمدالله محب یې هم ملتیا کوله په وروستیو ۱۵ کلونو کې په مخابراتي سکټور کې د پرمختګونو او لاسته راوړنو په اړه خبرې وشوې او له دوی څخه یې هیله وکړه چې د افغانستان سره په ځانګړې توګه د مخابراتو او معلو ماتي ټکنالوجۍ سکټور په پرمختیا کې همکاري وکړي.

همدا راز د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ وزیر محترم شهزاد اریوبی د مایکروسافټ نړیوال شرکت د نړیوالې سوداګرۍ رئیس ښاغلی ماتیو ریسمت سره ولیدل چې په دغه لیدنه کې د جمهور رئیس ستر سلاکار ښاغلی ډاکټر همایون قیومي، د افغانستان د سفارت مستشارې مېرمن مدینه قاسمي هم ګډون درلود.

د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ وزیر د مایکروسافټ شرکت سره په بېلابېلو موضوعاتو خبرې وکړې چې د افغانستان لپاره د ځانګړي لایسنس زمینه سازي، په ځانګړې توګه د حکومت لپاره د مایکروسافټ د پروګرامونو لکه وندوز او آفس د ښه ګټې اخیستنې په موخه، د درسي موادو د اسانتیاو رامنځته کولو له لارې د بریښنايي زده کړو په برخه کې همکاري، د ښوونځیو لپاره ګټور لوازم او مطالب، د دولتي کارمندانو ظرفیت لوړونه په ځانګړې توګه د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ وزارت د تخنیکي ټیم روزنه، ښه خدمتونه په کم لګښت وړاندې شي .

ددغه رسمي سفر په ترڅ کې د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ وزیر محترم شهزاد اریوبي د CISCO کمپنۍ له مرستیال ښاغلي میشل تایمني سره هم ولیدل چې د ولسمشر محمد اشرف غني ستر سلاکار محترم همایون قیومي هم حضور درلود.

په لیدنه کې د internet of things ټکنالوجۍ، د معلوماتو د امنیت عملیاتي مرکز او د وزارت د سایبري امنیت ټیم لپاره د یادې کمپنۍ همکارۍ او ملاتړ ترلاسه کولو په اړه خبرې وکړې.

ښاغلي اریوبي د CISCO کمپنۍ له چارواکو غوښتنه وکړه چې د افغان ځوانانو لپاره د زده کړې او ظرفیت لوړونې په ځانګړې توګه د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ وزارت لپاره د معلوماتو امنیت او کمپیوټري شبکو په برخه کې د همکارۍ زمینه برابره کړي، ترڅو له دې لارې د CISCO له پروګرامونو څخه موثره ګټه ترلاسه شي.

ښاغلي اریوبي له دوی غوښتنه وکړه چې د افغانستان لپاره د خپلو تجهیزاتو او تولیداتو په پلورکې ځانګړی تخفیف په نظر کې ونیسي، تر څو وکولی شو چې په ټولو دولتي بنسټونو کې د CISCO اجناس ترویج کړو.

د مخابراتو او معلو معلوماتي ټکنالوجۍ وزیر محترم شهزاد اریوبي د خپلو ملاقاتونو په دوام د ORACLE نړیوالې کمپنۍ د حکومتي اړیکو عمومي رییس ښاغلي پروسر سټېرلینګ سره هم ولیدل او د افغانستان د بریښنايي حکومتولۍ اوسنۍ کړنلاره د ORACLE برنامو په اړه یې خبرې وکړې.

همداراز په دغه ناسته کې د سافټویرونو په تخفیف او ارتقا، په ټول افغانستان کې د ORACLE لایسنسونو مرکزي کولو او د مخابراتو وزارت لخوا د هغوی مدیریت، د افغان Cloud چې د افغانستان دولت یوه مجازي فضا دی او د ORACLE لخوا د معلوماتو په ساتنه، پراختیا، لایسنس او مجازي Cloud ته د ټولو دولتي معلوماتو انتقالولو د ملاتړ او همکارۍ په اړه خبرې وشوې.

همدا راز د افغانستان د هارډویرونو د کرېنلاري چې د ORACLE د وسایلو په اساس جوړه شوې ده بحث  وشو او له یادې کمپنۍ څخه غوښتنه وشوه  چې په کم لګښت د هغوی د انتقال او ارتقا په برخه کې همکاري وکړي .

د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ وزارت له یادې کمپنۍ  د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ وزارت تخنیکي ټیم د زده کړې او ظرفیت لوړونې په اړه د هر اړخیزې همکارۍ غوښتنه وکړه، تر څو د ORACLE تولیداتو، پروګرامونو او تجهیزاتو څخه چې د افغانستان دولت ضرورت وي رغنده ګټه پورته شي.

د مخابراتو او معلو ماتي ټکنالوجۍ وزیر محترم شهزاد اریوبي امریکا متحده ایالاتو ته د خپل رسمي سفر په ترڅ کې په کانګریس کې د تګزاس ایالتد خلکو استاري او د معلوماتي ټکنالوجۍ د فرعي کمیټې رییس ښاغلي ویل هارډ سره لیدنه کې په ټوله کې د هېواد مخابراتي وضعیت، په وروستیو ۱۵ کلونو کې د مخابراتو سکټور  لاسته راوړنو او پرمختګونو په اړه بحث او خبرې وکړې.

ددغه لیدنې په ترڅ کې ښاغلي ویل هارډ ژمنه وکړه چې له افغانستان سره به په مختلفو برخو کې ملاتړ او همکارۍ ته دوام ورکړي.